سلسله نمبر: 27

قوم کی آواز

اتحاد، ایمان اور تنظیم

بسم الله الرحمن الرحيم

# پېښور، خوارج په غیرمسوولو عبادت کونکو ځانمرګي برید

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنهما أن النبي صلی الله علیه و آله وسلم قَالَ: لَزَّوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ ترمذي (4: 16), نسائي(7: 82)، ابن ماجه (2:874)

ژباړه: د الله جل جلاله په نزد د مسلمان وژل په نړۍ کې یوه وړه پېښه ده۔

د ټي ټي پي خوارج یو ځل بیا د پېښور پولیس لائنز کښې په بې وسلې عبادت کونکو ځانمرګې برید کولو سره د اسلام ضد ارادې څرګندې کړې دي۔

ټي ټي پي د خپل وژل شوي کماندر عمر خالد خراساني د غچ په توګه د ځانمرګي برید دعوه کوي چې په اصل کې د ټي ټي پي د داخلي اختلافاتو له امله وژل شوی او ویل کیږي چې نور ولي محسود په دغه وژنه کې لاس لري۔

د ټي ټي پي او جماعت الاحرار ترمینځ اختلافات زیات شوي دي او جماعت الاحرار د نور ولي محسود د هغو امرونو د عملي کولو نه انکار کړی دی کوم چې د جوماتونو، مدرسو، عیدګاو، عامه ځایونو او جنازو په نښه کول په کلکه منع دي۔ د پولیسو په لیکو کې پر جومات برید د همدې جګړې پایله ده، د دوی تر منځ په جګړه کې د پولیسو په نښه کول جاهلانه خبره ده۔ ټي ټي پي د حملې ذمه واري په غاړه اخېستې چې ډېر ژر به غچ واخلي۔

بل خوا د افغانستان موقت حکومت ځانمرګی برید په کلکه غندلی او هغه یې ترهګریز بللی او د شهیدانو او ټپیانو سره یې خواخوږي ښودلې ده۔

د امنیتي څواکونو له خوا پرله پسې ماتې ټي ټي پي دومره مغشوش کړي چې د ګمراهۍ، الحاد او حیوانیت تر ټولو ټیټې کچې ته راښکته شوی او د حق او باطل توپیر یې هېر کړی دی۔

په ځانمرګي برید کې زیاتره مړګ ژوبله هغه مهال رامنځ ته شوه چې د زاړه جومات چت ونړېد۔

عامه او امنیتي ارګانونه هوډمن دي چې د خوارج له خوا خپره شوې دغه وحشت ته ماتې ورکړي او دغه وحشتونه به هم د نورو ملګرو په څېر ډېر ژر پای ته ورسېږي۔

مورخہ: ۳۰ جنوری ۲۰۲۳ء